شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۰۳ ګڼه / شنبه د محرم‌الحرام ۲۵مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۰مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۱مه ۲۰۲۶ میلادي

امارت اسلامی ادعاهای صدراعظم پاکستان را تکراری و نادرست خواند

ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی، ادعاهای شهباز شریف، صدراعظم رژیم پاکستان، مبنی بر استفاده گروه‌های هراس‌افگن از خاک افغانستان برای طراحی و اجرای حملات علیه پاکستان را تکراری و نادرست خوانده است.

آقای مجاهد در یک نوار صوتی که به رسانه‌ها فرستاده ادعای شهباز شریف درباره حضور گروه‌های هراس‌افگن در افغانستان را بی‌اساس خوانده است.

مجاهد گفته است که امارت اسلامی اجازه نمی‌دهد گروه‌های خارجی در افغانستان فعالیت کنند یا از خاک این کشور علیه پاکستان یا هر کشور دیگری استفاده شود. او افزوده است: «همچو سوءظن‌ها، همچو پروپاگندها و همچو نظریات ضد و نقیض، همیشه بین افغانستان و پاکستان تنش‌ها را به بار آورده و فضای امن و اعتماد را از بین برده است.» این اظهارات در حالی مطرح می‌شود که شهباز شریف، صدراعظم رژیم پاکستان، بار دیگر مدعی شده است که گروه‌های هراس‌افگن از خاک افغانستان برای طراحی و اجرای حملات علیه پاکستان استفاده می‌کنند.

سخنگوی امارت اسلامی افزوده که چنین ادعاها سبب تیرگی روابط میان کابل و اسلام‌آباد شده و از مطرح شدن این اظهارات از سوی نخست‌وزیر پاکستان ابراز تأسف کرده است.

پروان کې د ۹۰ میلیونو ډالرو په پانګونې د سمنټو د دویمې کارخونې د جوړولو چارې پیل شوې

د جبل‌السراج سمنټو د دویمې کارخونې د بنسټ ډبره د اسلامي امارت د ریاست الوزراء د مرستیالانو او نورو مشرانو له لوري کېښودل شوه. دغه کارخونه به د ۳ کالو په موده کې د شاوخوا ۹۰ میلیونو ډالرو په لګښت بشپړه او زرګونو کسانو ته به پکې د کار کولو زمینه برابره شي. مسئولین وایي چې دغه کارخونه به په ۲۴ ساعتونو کې د ۵ زره ټنه سینټو د تولید ظرفیت ولري، چې ورسره به د سمنټو بیې راښکته او هېواد به د ځان‌بسیاینې خواته یو بل ګام هم ورنږدې شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په دې اړه جوړې شوې غونډې ته وویل چې، دا یوازې د یوې کارخونې بنسټ نه دی، بلکې د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ...۳مخ

...۳مخ

نشنل انترست:

همکاری‌های اقتصادی با افغانستان زمینه‌ساز ثبات و اتصال منطقه‌یی است

نشریه امریکایی نشنل انترست، در مقاله‌یی با عنوان «مسیر عمل‌گرایانه قزاقستان در افغانستان» نوشته است که افغانستان نقش تعیین‌کننده‌یی در آینده اوراسیا خواهد داشت و گسترش همکاری‌های اقتصادی با این کشور، می‌تواند زمینه‌ساز ثبات، توسعه و اتصال منطقه‌یی شود. در این مقاله که به قلم یرکین توکوموف، نماینده ویژه رئیس جمهور قزاقستان در امور افغانستان و الدانیز گوسینوف منتشر شده، آمده‌است که قزاقستان به‌جای رقابت‌های ژئوپولیتیکی، راهبرد تعامل عمل‌گرایانه و توسعه همکاری های اقتصادی با افغانستان را در پیش گرفته‌است. به باور نویسندگان، یک افغانستان باثبات و دارای اقتصاد پویا، برای امنیت و شکوفایی آسیای مرکزی و سراسر اوراسیا اهمیت اساسی دارد. از همین‌رو، آستانه تلاش می‌کند افغانستان از کشوری وابسته به کمک‌های خارجی، به یک مرکز تولید، تجارت ... ص۳

چین له افغانستان سره د سوداګریزو همکاریو د پراختیا هوکړه وکړه

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي چې د چین د شینګدائو نړیوال نندارتون له مرکز سره یې د سوداګریزو همکاریو د پراختیا، د نندارتونونو جوړولو او ګډو غونډو ترسره کولو په موخه د همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک کړی دی. یادې خونې په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې دغه هوکړه‌لیک د تولیدي ماشینونو د نړیوال نندارتون په څنډه... ۳مخ

د صنعت او سوداګرۍ وزیر:

د صادراتو د پیاوړتیا لپاره د هېواد په کچه د پروسس مرکزونه جوړېږي

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي له هغو افغان سوداګرو سره لیدلي، چې د هېواد سوداګریز توکي د اوراسیا هېوادونو بازارونو ته صادروي. په دې لیدنه کې د صادراتو پر پراختیا، شته ستونزو، سوداګرو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو او د صادراتي بهیر د پیاوړتیا په اړه خبرې شوې دي. د صنعت او سوداګرۍ... ۲مخ

لوګر کې د هندوانو د کښت ساحه ۲۵ سلنه زیاته شوې

د لوګر ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو ویلي: سږ کال په دغه ولایت کې د هندوانو د کښت ساحه د تېر کال په پرتله شاوخوا ۲۵ سلنه زیاته شوې ده. د مسئولینو په وینا، د څاڅکي اوبو لګولو سیستم کارول، مناسب بازار، ښې بیې او د کرکیلې اقتصادي ګټه د هندوانو د کښت د پراخېدو مهم لاملونه دي. د دغه ولایت بزګرانو ویلي چې سږ کال یې حاصلات او عواید د تېر کال په پرتله زیات شوي دي.

تولیدات داخلی غزنی در نمایشگاه سلطان محمود غزنوی به نمایش گذاشته شد

دومین نمایشگاه سلطان محمود غزنوی به هدف حمایت از تولیدات داخلی، رشد صنایع ملی، جذب سرمایه‌گذاری‌های جدید، دستیابی به خودکفایی صنعتی و ترویج فرهنگ برگزاری نمایشگاه‌ها در ولایت غزنی از سوی شرکت خدمات تدویر نمایشگاه مشعل کاروان با همکاری وزارت صنعت و تجارت با حضور مولوی شهاب‌الدین ثاقب، معین مالی و اداری وزارت صنعت و تجارت، محترم سردار محمدمدنی، معاون والی ولایت غزنی، مولوی حضرت موسی ابومنصور، رئیس صنعت و تجارت آن ولایت و مسئولین محلی امارت اسلامی، تاجران و صنعتکاران و متنفذین آن ولایت افتتاح شد. ص۲

سرمقاله

د هېواد په اقتصادي او صنعتي ډګر کې یو بل تاریخي ګام!

هېوادونه او ملتونه پر تشو شعارونو ورکولو نه جوړېږي، بلکې قوي عزم، فولادي هوډ او اقتصادي او بشري ځواک ته ضرورت لري چې باید عملاً یې د ابادۍ کاروانه پیل کړي. د هرې صنعتي فابریکې چې بنسټ ایښودل کېږي او جوړېږي، هره بریښنایي پروژه چې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي او یا چې د هېواد په هر کونج کې پر طبیعي شتمنیو پانګونه کېږي، دا د اقتصادي خپلواکۍ په لور یو مهم ګام دی چې باید وستایل شي او قدر یې وشي.

زموږ هېواد چې د تېرو څو لسیزو جګړو له امله یې د صنعت او تولید ډېر بنسټونه زیانمن شوي وو، نن یو ځل بیا د اسلامي امارت تر قیادت لاندې د هغو سترو او بنسټیزو پروژو شاهد دی چې د هېواد د اقتصادي بڼې د بدلون زېری پکې له ورایه ښکاري.

د پروان ولایت په جبل‌السراج ولسوالۍ کې د سمنټو د نوې فابریکې جوړېدل د همدې بدلون یو ښه مثال دی. پر یادې فابریکې سلګونه میلیونه ډالره مصرف راځي، چې په (۲۴) ساعتونو کې به د پنځه زره ټنه سمنټو د تولید وړتیا ولري. یقیناً چې دا کار د اقتصاد او صنعت په برخه کې یوه ستره لاسته راوړنه او پرمختګ دی چې کولی شي د هېواد د ودانیزو اړتیاوو لویه برخه له کورني تولید څخه پوره کړي او له کلونو راهیسې د وارداتي سمنټو پر وراندې د افغانستان تکیه په څرګند ډول راکمه کړي.

سمنټ د ودانیزو چارو هغه مهمه ماده ده چې د هر سړک، پله، بند، ښوونځي، روغتون او استوګنیز ښارګوټي په بنسټ کې کارول کېږي. کله چې موږ دا اړتیا له کورني تولید څخه پوره کړو، نو د پروژو لګښت مو راکمېږي، د کار بهیر مو چټکېږي او ورسره د بازار ثبات پیاوړی کېږي. په کور دننه د سمنټو تولید د بیو د توازن زمینه برابروي او پانګوال هم د اوږدمهالې پانګونې لپاره ډاډمن چاپېریال پیدا کوي. بله خوا، د یادې پروژې اقتصادي اغېزې له دې هم پراخې دي. زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کاري فرصتونو برابرېدل، د تخنیکي مهارتونو پراختیا، د کورنیو شرکتونو پیاوړتیا او د اړوندو تولیدي برخو فعالېدل هغه ګټې دي چې د همدې سترې صنعتي پروژې له برکته ترلاسه کېږي. همدا وجه ده چې پرمختللي هېوادونه... ۳مخ

آغاز کار پروژه اعمار کانال سنگی اسحاق سلیمان در هرات

مسئولان در ریاست شاروالی هرات می‌گویند که کار اعمار کانال سنگی اسحاق سلیمان مربوط ناحیه سیزدهم شهر هرات، با طول ۴۵۰ متر و با هزینه مجموعی ۲ میلیون و ۳۹۲ هزار افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات، با مولوی حمدالله نعمانی، شاروال هرات و بزرگان محل رسماً افتتاح و کار عملی آن... ص۲

لغمان کې د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت نوی مجهز کلینیک پرانیستل شو

د لغمان د قرغیو ولسوالۍ د کاکڅ په سیمه کې د یوه خصوصي پانګوال له لوري د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت مجهز سراپا کلینیک جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. خصوصي پانګوال او د کلینیک جوړوونکي جسیم مموزي وویل: د دغه روغتیایي مرکز د جوړولو چارې په اتو میاشتو کې بشپړې شوې او ټولیز لګښت یې ۹ میلیونه افغانۍ دی. د نوموړي په وینا، دا یو مجهز سراپا کلینیک دی چې د عاجلو ناروغانو د درملنې ترڅنګ پکې د داخله، جراحي، غاښونو، نسایي ولادي څانګې، مجهز درملتون او نورې اړینې روغتیایي اسانتیاوې برابرې شوې دي. ده زیاته کړه: دا کلینیک به د کابل ـ جلال‌اباد پر لویه لاره د ټرافیکي پېښو ټپیانو او عاجلو ناروغانو ته په لنډ وخت کې لومړنۍ طبي مرستې او بېړنۍ درملنه ... ۳مخ

میدان‌وردګو کې د منې ګل دودیزه مشاعره ترسره شوه

د میدان‌وردګو ولایت په مرکز میدان‌ښار کې د منې ګل دودیزه

مشاعره د شاعرانو، لیکوالانو، فرهنګپالو او د ادب د مینه‌والو په ګډون جوړه شوه. دغه مشاعره د میدان‌وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ترنم او ترانو ریاست په همغږۍ، د میدان‌ښار اړوند د ابراهیم‌خېلو په کلي کې جوړه شوې وه. په دې ادبي غونډه کې... ۲مخ

افتتاح تعمیر جدید اداری شرطه سرحدی در غور

در مراسم افتتاح این تعمیر، محمد اجمل ویاړ معاون نظامی ریاست عمومی تعمیرات وزارت امور داخله، الحاج مل پاسوال ملا نورآقا حیدر قوماندان امنیه ولایت غور، ملا عبیدالله ظهیر قوماندان شرطه سرحدی میدان هوایی... ص۳

فاني في الله شازلمي

مولوي خالد «تسل»

د ژوند پـه پړاوونـو کـې د ځینـو وختونـو کیفیـت، راحـت او سکون داسې وي چې انسـان يـې پـه زيـادت حـارص وي، خـو هغـه وختونـه کـم او خوندونـه يـې زيـات وي.

زمـا لـه پيلـه د فدايانـو لـه کيسـو، خاطـرو، مجلسـونو او کتابونـو سـره مينـه وه. د استشـهادي مجاهـد مولـوي مجيـب الرحمـن يحيـیٰ «تقبلـه اللـه» ورور مفتـي صديـق اللـه حمـزه کابـل تـه راغلـی ؤ او مـا لـه خـدای څخـه دا غوښـتل چـې يـو ځـه وخـت پيـدا کـړم او ورسـره څـه مجلـس وکـړم، تـر څـو د يحيـیٰ مولـوي صاحـب «تقبلـه اللـه» کيسـې راتـه وکـړي.

خوشـبختانه چـې زمينـه مسـاعده شـوه او مـا مفتـي صاحـب پـه موټـر سـايکل بانـدې هغـه سـړک تـه بوتـه چېرې چـې مولـوي صاحـب د امريکايانـو پـر موټريـز کاروان تنديـز موټـر بـم بريـد کـړی ؤ.

د يحيـیٰ مولـوي صاحـب پـه اړه يـې راتـه يـو څـو کيسـې وکـړې، چـې ټولـې جالبـې او پـه زړه پـورې وې.

يوه يې له تاسـو سره شريکوم.

ويـل يـې: يحيـی مولـوي صاحـب مرکـز کـې ؤ او يـوه ورځ چـط پـه اتـاق کـې د ډوډۍ خوړلـو وخـت ؤ، پـه دويـم اتـاق کـې د ډوډۍ خوړلـو پـه پـار تابيـا ونيـول شـوه او دسـترخوان اوار شـو. يحيـی مولـوي صاحـب پـه هغـه بـل اتـاق کـې د قرآنکريـم پـه تـلاوت بوخـت و، ملګـري هغـه اړونـد مشـر ور ولېـږه، چـې ورشـه يحيـی مولـوي صاحـب تـه ووايـه چـې راشـي! ډوډۍ تيـاره ده، ملګـری ورغـی او ورتـه ويـې ويـل او بېرتـه د ډوډۍ خوړلـو اتـاق تـه راغـی، خـو يحيـی مولـوي صاحـب نشـو معلـوم، دويـم ځـل يـې بيـا ور ولېـږه، يحيـی مولـوي صاحـب بيـا نشـو معلـوم او دريېـم ځـل هغـه مشـر خپلـه ورغـی او چـې ګـوري يحيـی مولـوي صاحـب د قرآنکريـم پـر وقايـه بانـدې نوشـته شـوي اسـماء الحسـنیٰ تلاوتـوي او سـم پکـې غـرق دی، مشـر غـږ پـرې وکـړ او دی هېـڅ پـرې خبـر نـه دی، چـې څـه شـی شـته او کنه؟!مشـر ورنـږدې شـو او ورتـه ويـې ويـل: يحيـی مولـوي صاحـب! ملګـری مـو څـو وارې درتـه راولېـږه او اوس دا دی زه درتـه راغلـم، مـا ږغونـه دربانـدې وکـړل او تـه ډوډۍ تـه رانغلـې؟

يحيـی مولـوي صاحـب د ده پـه ځـواب کـې وويـل: د هېچـا پـر ږغ نـه يـم پـوه شـوی، مـا د اسـماء الحسـنی تـلاوت کولـو او د اللـه جـل جلالـه يـو يـو صفتـي نـوم بـه مـې تـلاوت کـړ او بيـا بـه مـې معنـا پـه ذهـن کـې مسـتحضره کـړه او بيـا بـه مـې تدبـر پکـې کولـو، الرحمـن، الرحيـم...!

بيـا مـې د اللـه پـه رحـم ... او داسـې نـورو صفتونـو کـې تدبـر کولـو. هـر يـو نـوم بـه دومـره راتـه سـتر شـو لکـه غـر. هيـڅ نـه يـم پـوه شـوی، چـې څـوک ماتـه راغلـی دی.

لـه دغـې ورې بېلګـې څخـه بـه درتـه څرګنـده شـوې وي، چـې زمـوږ د هغـې مبـارزې قربانيـان چـې پـه توسـط يـې زه او تـه اوس پـه هسـک سـر او جګـو سـترګو پـه کابـل کـې ګرځـو، د هغـې مبـارزې سـهيم فانـي فـي اللـه زلموټـي څومـره لـه اللـه جـل جلالـه سـره پـه اړيکـه کـې قـوي وو او څومـره د اللـه جـل جلالـه پـه فکـر او ذکـر کـې فانـي او مسـتغرق وو. اللهـم تقبـل شـهاد تـه و ارفـع درجاتـه. يـا اللـه جـل جلالـه! د دوی د قربانيـو پـه سـرو وينـو د امـن بلـې شـوې ډېـوې مـه مـړې کـوې. او مـوږ نـه تـا او نـه دوی تـه پـړه راولـې. د شـکر او وحـدت غونـدې د سـترو عبادتونـو توفيـق را پـه برخـه کـړې.

آغاز کار پروژه اعمار کانال...

آغاز گردید. مولوی حمدالله نعمانی شـاروال هرات در مراسـم آغاز این پروژه گفت که توسـعه زیرساخت‌های شـهری، ایجاد آب‌روهای معیاری و حل مشـکلات ناشی از آب‌های سـطحی، از اولویت‌های اساسـی شـاروالی بوده و تلاش‌ها برای اجرای پروژه‌های عام‌المنفعه در بخش‌های مختلف شـهر ادامه دارد. مولوی نعمانی علاوه می‌کند که با تکمیل این کانال، مشـکلات باشـندگان منطقه اسحاق سلیمان در بخش انتقال آب‌های سـطحی کاهش یافته و زمینه بهبود وضعیت محیطی و شـهری برای ساکنان این ساحه فراهم خواهد شد. در همین حال باشندگان اسحاق سلیمان ضمن ابراز خرسندی از آغاز این پروژه، گفتند که نبود آب‌روهای مناسـب از مشکلات عمده این منطقه بوده و با تکمیل این کانال، بخش بزرگی از چالش‌های موجود برطرف خواهد شـد. قابل یادآوریست که این پروژه قرار اسـت در مدت بیش از یک ماه تقویمی توسط شرکت سـاختمانی و سرک‌سازی «محمد کبیری» تکمیل و پس از آن مورد بهره‌برداری قرار گیرد.

د څرخي پله زندانیانو...

موخه د زندانيانو د مسـلکي وړتياوو لوړول او له خوشې کېدو وروسته د کار موندنې د زمينې برابرول دي. د زندانونو چارو د سـمون ادارې هم له ګډونوالو غوښتي چې له دې فرصت څخه په ښه توګه ګټه واخلي.

تولیدات داخلی غزنی ...

در مراسم افتتاح این نمایشگاه، مولوی شهاب‌الدین ثاقب، معین مالی و اداری وزارت صنعـت و تجارت برحمایت ایـن وزارت از تولیدات داخلی و سـکتورخصوصی تأکیـد کرد. وی برگزاری نمایشـگاه‌ها را فرصت مناسـب برای معرفی تولیدات ملـی، بازاریابی محصولات، جذب سرمایه‌گذاری، ایجاد ارتباط میان تولیدکنندگان و تجار و گسترش بازارهای داخلی و خارجی دانسـته و از تاجران و صنعتکاران خواست با افزایـش کیفیت تولیدات، رعایت معیارهای لازم و سـرمایه‌گذاری بیشتر؛ در مسیر رشداقتصادی، ایجاد اشتغال و خودکفایی کشور نقش مؤثر ایفا نمایند.

د نفوسو د نړيوالې ورځې په مناسبت

کوچيان د هېواد د نفوسو ۶ سلنه برخه جوړوي

حيات الله حليم

کلـه چې خبـره د نفوسـو د نړيوالـې ورځـې پـه مناسبت را تکيـه ده، يـو خـو د ټولـې نـړۍ مجموعـي نفـوس دی چـې څه بانـدې ۸ ميليـارده اټکل شـوی، بـل د افغانسـتان نفـوس دي چـې اوس پنځه څلوېښـت ميليونـه تخمين شـوي، خـو زمـوږ د هېـواد نفـوس اوس پـه اټکلـي اوحقيقـي ډول ځکـه ناسـم محاسـبه کېـږي چـې هغـه پـه ميليونونـو افغـان کـډوال چـې د هېـواد لـه هـر ولايـت څخـه لـه ملـک نـه وتلـي او د نـړۍ ټـول ملکونـه پـرې ډک دي، د کـوم ملـک پـه نفوسـو کـې حسـابېږي ؟ پـه داسـې حـال کـې چـې پـه افغانسـتان کـې اوسـني شـته نفـوس لـه ملـک نـه د وتليـو افغـان کډوالـو د نـه شـتون بـا وجـود لـه اتيـا ميليونـو اوښـتي دي، ځکـه د څوارلسـمې هجـري پېـړۍ پـه څلورمـه لسـيزه کـې (۱۳۴۰ ـ ۱۳۵۰ هجـري کلونـو کـې) کلـه چـې د هېـواد د نفوسـو معيـاري سرشـمېرنه وشـوه د افغانسـتان نفـوس څوارلـس ميليونـه تـه تثبيت شـول، خـو هغـه وخـت چـې يـوه کورنـۍ اتـه کسـه وه ، اوس هماغـه اتـه کسـيزې کورنـۍ د بېلابېلـو کورنيـو پـه تشـکيل کـې لـه سـلګونو کسـانو اوښـتي چـې د نفوسـو د کثـرت دا نوسـان کـه لـه ۱۴ ميليونوڅخـه پـه لـس برابـره زيـات محاسـبه کـړو، نـو د افغانسـتان مجموعـي نفـوس اوس ۱۴۰ ميليونـه حسـابېدای شـي، کـه چـا تـه پـه دې محاسـبه کـې شـک وي پـه خپلـه کورنـۍ کـې دې حسـاب وکـړي او کـه محاسـبه کوونکـی د ځوانـۍ پـه مرحلـه کـې وي دا محاسـبه دې د خپلـې کورنـۍ لـه (مسـنو) کسـانو او يـا د کلـي لـه مشـر کـس سـره شـريکه کـړي، تخمينـي حسـاب دې وکـړي، څـو وپوهېـږي چـې څـو کسـانو تـه رسـېږي. دا بـه پـر ځـای پرېـږدو، يـوې بلـې لـه ټولـو مهمـې خبـرې تـه هـم اشـاره کـوو، هغـه دا چـې يـوازې له پنځوسـو ترشـپېتو کالـو د مخـه پـورې بـه نـوي زېږېدلـي ماشـومان د مختلفـو ماشـومانه ناروغيـو لـه وجـې لکـه شـنه ټوخلـې، سـرخکانې، بـوزه کانـې، سـينه بغـل، چيچـک او نـورو ناروغيـو لـه وجـې لـه اويـا تـر اتيا سـلنې پـورې مـړه کېدل اونـه بـه سـترېدل، چـې لـه دې وجـې د نفوسـو د کثـرت مجموعـي سـيرهم بالـکل بطـي و، خـو اوس د مختلفـو واکسـينونو لـه برکته يو زېږېدلـی ماشـوم هـم نه مـري او يـوازې دوه نيمې لسـيزې وروسـته يـوه ځانګـړې کورنـۍ تـرې جوړېـږي، کـه دا ټولـې محاسـبې پـه دقيـق ډول تـر سـره شـي او پـه ښـارونو کـې اوسـنۍ ګڼـه ګونـه هـم پـه پـام کـې ونيـول شـي، نـو د هېـواد د مجموعـي نفوسـو تخميني رقـم پـه لاس راتـلای شـي.

زمـوږ خبـره د هېـواد پـه مجموعـي نفوسـو کـې د کوچيانـو د نفوسـو پـه اړه را تکيـه وه چـې څـه بانـدې نيمـه پېـړۍ د مخـه د دوی نفـوس د هېـواد د مجموعـي نفوسـو پـه پرتلـه ۶ سـلنه جوړولـه، له دې چـې نسـلي تکثيرتقريباً پـه ټولـو قومونـو کـې مسـاوي دی او کوچيـان زياتـره بهرنيـو هېوادونـو تـه پـه کډوالـۍ هـم نـه دي وتلي، نـو نفـوس يـې ښـايي اوس د هېـواد لـه مجموعـي نفوسـو څخـه د فيصـدی پـه لحـاظ لـه شـپږ سـلنې هـم اوښـتي وي.

کوچيـان پـه افغانسـتان کـې هغـه پونـده ډلـې دي چـې د آريايانو له زمانـې يـې تـر نـن پـورې خپـل کوچيانـي ژونـد تـه ادامـه ورکـړې او د آريايانـو او د هغـې زمانـې د ژونـد روايـت يـې تـر نـن پـورې ثابـت او تـازه پـر ځـان سـاتلی دی.

دوی د ځړمونـي پـه موسـم کـې لـه خپلـو رمـو، ګلو او اوښـانو سـره د هېـواد، د درو او سـردرو (اېلبندونـو) پـه لـور پـه يوسـتوې ليکـه د اوږدو کاروانونـو پـه تشـکيل کـې روان او د يخنـۍ موسـم پـه را رسـېدو سـره بېرتـه تـودو ملکونـو تـه ځـي.

کوچيـان د اوسـني نفـوس پـه لحـاظ د هېـواد د نـورو اقوامـو او قبايلـو پـه تشـکيل کـې د بـې شـمېره لويـو او کوچنيو قومـي څانګو پـه درلودلـو سـره د هېـواد پـه مختلفـو جغرافيـاوو کـې ګرځنـده (کوچيانـي) ژونـد لـري اوهرڅومـره چـې د هېـواد د نـورو قومونـو نفـوس زياتېـږي پـه طبيعـي ډول د دوی نفـوس هـم ورسـره ډېرېږي د دوی د نفوسـو تخمينـي ارقـام سمدلاسـه د کوچيانـو د سـرخېلانو پـه مرسـته پـه عاجلـو پېښـو کـې د رسـېدګۍ لپـاره آن پـه يـوه ورځ کـې تـر لاسـه کېدای شـي، ځکـه پـه دوی کـې د تربګنـۍ او خپلـۍ موضـوع ډېـره مهمـه ده او هـر سـرخېل د خپلـې څانګـې نفـوس له اړتيـا پرتـه هـم د ژبـې پـه سـر پـه يـاد لـري، کـه څـه هـم د تېرې هجـري پېـړۍ پـه شـپږمه لسـيزه کـې دوی هـم د هېـواد لـه نـورو اوسـېدونکو سـره ګاونـډي هېـواد تـه کـډوال شـول او هلتـه يـې پـه کمپونـو کـې لـه ځايـي ژونـد سـره عـادت واخيسـت، خـو خپـل نسـبي آدرس يـې هېڅکلـه لـه لاسـه ورنـه کـړ.

کـه څـه هـم له هجـرت د مخـه د کوچيانـو نفـوس د کليوالـي وګړو پـه پرتلـه ډېـر نـه زياتېـده او وجـه يـې داوه چـې دوی بـه ډېر سـتړې، سـتومانه اومصـروف ژونـد درلـود، چـې فزيکـي سـتړياوې تـل د نفوسـو پـر زياتېـدو منفـي اغېـزې اچـوي، خـو بيـا هـم کوچيـان له دې چـې پـه غرونـو کـې ګرځېـدل او شـيدې اومسـتې يـې ورځنـی خـوراک و، نـو هـر ځـوان يـې ډېـر قـوي او څـورب و.

دا چـې کوچيـان د ټولنيـز ژونـد پـه پړاوونـو کـې پـه څـو ډلـو وېشـل شـوي دي، پـه لانـدې ډول واضـح کېږي:

پخـوا عمومـاً افغانـي کوچيانـو درې ډولـه ژونـد درلـود ، لومـړۍ ډلـه يـې داخلـي عبـوري کوچيـان وو چـې دوی د کال پـه مناسـبو موسـمونو کـې د افغانسـتان پـه داخـل کـې لـه يـوې سـيمې بلـې تـه، لـه خپلـو رمـو ګلـو او اوښـانو سـره د څرځايونـو پـه لـور تلـل او دويمـه ډلـه يـې چـې بلوچـي کوچيـان هـم پکـې شـامل وو، فرامـرزي کوچيـان بلـل کېـدل، چـې دوی نـه يـوازې پـه افغانسـتان کـې ګرځنـده او پونده ډلې وې، بلکې د پاکستان او ايران څرځايونو تـه هـم تېرېـدل. درېيمـه ډلـه کليـوال يـا ځايـی کوچيـان دي او وو چـې يـو وخـت دوی هـم ګرځنـده او پونـده وو، خـو د زمانـې پـه تېرېـدو يـې کليوالـي اسـکان تـه ترجيـح ورکـړې ده او اوس پـه کليو کـې د نـورو ځايـی هېوادوالـو پـه څـوا پـورې اوسـېږي.

بلـه ډلـه ييلاقـي کوچيـان دي چـې هغـه بيـا پـه افغانسـتان کـې نشـته او زياتـره د ماوراءالنهرپـه هېوادونـو او د نـړۍ پـه نـورو پرمختللـو هېوادونـو کـې ژونـد کـوي، دوی د مجبوريـت لـه مخې نـه، بلکـې « هوسـمن » کوچيـان دي چـې د دوبـي پـر مهـال د خپلوهېـوادو يخـو او سـرو سـيمو تـه چـې اکثـره پـه غرونـو کـې واقـع وي لـه خپلـو رمـو او اوښـانو سـره (ييـلاق) تـه ځـي او د دوی دا ژونـد تقريبـاً د عياشـۍ بڼـه لـري.

د افغانـي کوچيانـو پـه اړه مـې د يـوه شـاعر دا بيتونـه هـم را نقـل کـړي.

په چمن کې به سرې سپينې رمې ګرځي
ښکته پورته به کوچيان وي موږ به نه يو
شينخالۍ نجونې به ګرځي هوسناکې
ګل به يې اينبی پر اوربل وي موږ به نه يو

مېړني دي، چې يادېږي

شېرمحمد اميني ستانکزی

د کرکـټ پـه مينه‌ناکـه لوبـه کـې د افغانسـتان د کرکـټ ملـي اتلانـو داسـې وياړونـه خپـل کـړي، چـې د هېـواد نـوم يـې د نـړۍ پـه کچـه روښـانه کـړی دی. دوی نـه يـوازې پـه نړيوالـو سـياليو کـې تاريخـي بريـاوې ترلاسـه کـړې؛ بلکـې د افغـان ولـس د يووالـي، ملـي ويـاړ او ګـډ هويـت اسـتازي هـم ګرځېدلـي دي.

مـوږ ويـاړو، چـې د دغـو اتلانـو بريـاوې بـه د افغانسـتان د پرمختـګ، هوسـاينې او ملـي يووالـي لپـاره د الهـام سـرچينه وي او د هېـواد پـه معاصـر تاريـخ کـې بـه د ويـاړ نـوې پاڼـې ورزياتـې کـړي.

د افغانسـتان د کرکـټ د ودې، پرمختـګ او نړيـوال شـهرت پـه بنسـټ ايښـودونکو شـخصيتونو کـې اروابښـاد محمـد شـاهپور ځـدراڼ ځانګـړی ځـای لـري. ده د ملـي کرکـټ لپـاره نـه سـتړې کېدونکـې هلـې ځلـې وکـړې، تـل يـې دا هيلـه لرلـه، چـې د افغانسـتان نـوم پـه نړيوالـو ډګرونـو کـې ځلانـد وي او هېـواد تـه ويـاړونـه راوړي. نـن ورځ د ده د هڅـو ثمـره د افغـان اتلانـو پـه بريـاوو کـې پـه څرګنـد ډول ليـدل کېـږي.

همـدا د ده د خدمتونـو او مېړانـې ارزښـت دی، چـې پـه ويـر کـې يـې ټـول ولـس ځـان شـريک ګڼـي. يـو ملـت هغـه وخـت خپـل رښـتيني اتـلان نـه هېـروي، چـې هغـوی د خپـل ولـس د عـزت، ويـاړ او راتلونکـي لپـاره ژونـد وقـف کـړی وي.

اروابښـاد شـاهپور ځـدراڼ د اوږدې مـودې ناروغـۍ لـه امله تـر درملنـې لانـدې و، خـو د هېوادوالـو لـه دعـاوو او نېکـو هيلـو هېڅکلـه لـرې نـه و. د اللـه تعالـی پرېکـړه داسـې وه، چـې د چنګاښ پـه ۱۷مـه يـې لـه دې فانـي نـړۍ سـترګې پټـې کـړې او خپـل روح يـې خپـل حقيقـي مالـک تـه وسـپاره. د ده د مړينـې خبـر ټـول هېـواد د غـم پـر ټغـر کېنـاوه او د زرګونـو افغانانـو سـترګې يـې لـه اوښـکو ډکـې کـړې.

د ده د جنـازې او تدفيـن پـه مراسـمو کـې د لسـګونو زرو هېوادوالـو ګـډون دا وښـوده، چـې رښـتيني اتـلان يـوازې نـه وي؛ د ولـس مينـه، دعـا او درنـاوی تـل ورسـره وي. دا ولسـي حضـور د اروابښـاد شـاهپور ځـدراڼ د خدمتونـو، اخـلاص او محبوبيـت څرګنـد ثبـوت و.

د افغـان ولـس تمـه لـه نـورو اتلانـو دا ده، چـې د اروابښـاد شـاهپور ځـدراڼ نيمګـړی ارمـان بشـپړ کـړي، د هغـه لاره ژونـدۍ وسـاتي او د خپلـو بريـاوو پـر مـټ د هېـواد د ويـاړ او عـزت پاڼـې لا رنګينـې کـړي.

اللـه تعالـی دې اروابښـاد محمدشـاهپور ځـدراڼ تـه فـردوس جنـت پـه نصيـب کـړي، قبـر يـې لـه الهـي انـوارو ډک او کورنـۍ، دوسـتانو او د افغانسـتان ولـس تـه دې جميـل صبـر او اجـر ورکـړي. آميـن

۳۶۰ خبرې

امين وردګ / اتۀ شپېتمه برخه

۳۴۶مه خبره / پيسې هېڅ هم نۀ دي!

ځينـې خلـک پـۀ دې عقيـده دي، چـې پيسـې هـر څـۀ دي! خـو دوی بـۀ هغـه مهـال پـوه شـي، چـې کلـه پيسـې وي، خـو نـور هېـڅ څـه نـۀ وي! نـو چـې دوی بـه بيـا پـۀ پيسـو څـۀ کـوي؟ ځکـه چـې (څـۀ) خـو بـه لـه لويـه سـره وي لا نـه.

۳۴۷مه خبره / ښـۀ عادت تقليد کړئ او بد نه!

عـادت پـۀ انسـان کـې هغـه تکـراري عمـل دی چـې کلـه پـۀ طبيعـي او کلـه هـم پـۀ تقليـدي توګـه پيـدا کېـږي، بيـا پـۀ مـرور د زمـان سـره يـا تقويـه کېـږي او يـا هـم ضعيفېـږي، سـلبېږي او محـو کېـږي چـې دا حـالات پـۀ تعشـق او تنفـر پـورې اړه لـري، خـو عـادات زياتـره د محيـط او ماحـول تـر اثـر لانـدې وي، ځکـه خـو تاسـو د عاداتـو پـۀ تقليـد او ايجـاد کـې ډېـر پـام کـوئ! د کـوم چـا لـه عـادت څخـه مـو چـې اندامونـه يـا اخـلاق الهـام اخلـي يـا تـرې متأثـر کېـږي، نـو لومـړی د هغـۀ کـس معنـوي موقـف او شـخصيت تـه کلکـه توجـه کـوئ، تـر څـو تاسـو يـو ښـۀ مقلـد و اوسـئ او داسـې کـوم عـادت تقليـد نـۀ کـړئ چـې شـخصيت مـو تهديـد کـړي، ځکـه چـې د عـادت تغيـرول او محـو کـول نـو بيـا څـۀ آسـانه کار نـۀ دی.

۳۴۸مه خبره / د مرد او نامرد ملګرتيا

لـه مـرد سـره ملګرتيـا کـوه او لـه نامـرد سـره سـاعتتېري! ځکـه چـې مـرد پـۀ سـختۍ کـې يـار دی او نامـرد پـۀ آسانۍ کې.

۳۴۹مه خبره / موږ د شپانه پۀ قدر نۀ پوهېږو!

مـوږ شـپون سـم نـۀ پېژنـو او نـۀ يـې هـم قـدر او قيمـت راتـه معلـوم دی. حـال دا چـې شـپنۍ پيغمبرانـو تـه (د سـالم مديريـت اړونـد) د خـدای زور مهارتونـه ور زده کـړي دي او پـۀ دې خبـره بـه تاسـو هغـه مهـال پـوه شـئ چـې کلـه پـۀ غـرۀ کـې کومـه لويـه رمـه داسـې و وينـئ چـې شـپون يـې نـۀ وي او شـغالان يـا ګيـدړې يـې پسـونه يـوې او بلـې خـوا تـه ځغلـوي.

۳۵۰مـه خبـره / ځـان لـه چـا بهتـر مـه ګڼـه چـې بيـا احمـق درتـه وايـي

هېڅکلـه هـم ځـان لـه چـا بهتـر مـه ګڼـه، ځکـه چـې د کمعقلـۍ راز دې پاشـل کېـږي او عاقلانـو تـه بيـا احمـق ښـکارې؛ مطلـب لـه خپلـې کمعقلـۍ او حماقـت سـره دې ډېـر خيـال سـاته! هسـې نـه چـې پـۀ لـوی لاس ځـان تـه د وېښـيارانو در پـام کـړې.

د صادراتو د پیاوړتیا لپاره د هېواد په کچه د پروسس...

وزارت د معلوماتـو لـه مخې، په دې غونډه کې ښـاغلي عزيزي ويلي، چې دغه وزارت د صادراتو د ودې او د صادروونکو سوداګرو د ملاتـړ لپاره په کابل او د هېواد په بېلابېلـو زونونو کې د صادراتو د پروسـس مرکزونو پر جوړولو جدي کار کوي. نوموړي څرګنده کړه، چې د دغو مرکزونو په جوړېدو سـره به صادروونکو ته د توکو د معياري کولو، بسته‌بندۍ، پروسس او نورو اړينو برخو کې لازمي اسانتياوې برابرې شي، چې په پايله کې به د افغانستان صادرات لا زيات او د نړيوالو بازارونو لپاره به د هېواد د توليداتو سيالي لوړه شي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ويلي، چې د اوراسيا اقتصادي ټولنې له غړو هېوادونو څخه روسيې، قزاقسـتان، بلاروس، ارمنستان او قرغيزستان د افغانستان يو شمېر سوداګريزو توکو ته ترجيحي تعرفې ورکړې دي، چې له امله يې افغان سـوداګرو ته د صادراتو په برخه کې نـوي فرصتونه برابر شـوي دي. د وزارت په خبره، د ترجيحي تعرفو له رامنځته کېدو سـره به افغان توليدات په اسـانه او مناسبو شرايطو د سيمې بازارونو ته ورسـېږي او د افغانستان سوداګريزې اړيکې به له يادو هېوادونو سـره لا پراخې شي. په ورته مهال، افغان سـوداګر د صادراتو بهير د لا اسانتيا، د ټرانسپورټي ستونزو د حل، د کيفيـت د معيارونو د پوره کولـو او د بازارموندنې په برخو کې د لا ډېـرو همکاريو غوښـتنه کوي. د صنعت او سـوداګرۍ وزارت ټينـګار کوي، چې د صادراتو پراختيا، د کورنيو توليداتو ملاتړ او له سيمه‌ييزو بازارونو سره د افغانستان نښلول د اقتصادي ودې له مهمو لومړيتوبونو څخه دي.

میدان‌وردګ کې د منې...

د ولايتي مسئولينو ترڅنګ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چارواکو، د هېواد له بېلابېلو سيمو راغلو شاعرانو، ليکوالانو او زرګونو فرهنګپالو ګـډون کړی و. د ميدان‌وردګو د اطلاعاتـو او فرهنګ رئيس مولوي حبيب‌الله مجاهد وويل: دا ډول فرهنګي پروګرامونه د ملي يووالي، ټولنيزې همغږۍ او د ادبي ارزښتونو د پياوړتيا په برخه کې مهم رول لري. د اطلاعاتـو او فرهنګ وزارت فرهنګي معين مولوي عتيق‌الله عزيزي هم وويل:

مشـاعرې يوازې ادبي غونډې نه دي، بلکـې د فکري ودې او مثبتو پيغامونو د خپرولو اغېزمنې وسـيلې دي. په پای کې ګڼو شـاعرانو خپل شعرونه وړاندې کړل چې د سولې، يووالي، ځوانانو او ټولنيزو موضوعاتو پيغامونه يې پکې ځای کړي وو.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

نام پروژه: اعمار دیوارهای استنادی شهرک بیجاشده گان مس عینک اول
نمبر تشخیصیه پروژه: MOMP-W-15-NCB-1405
ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه نامبرده اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت تدارکات ساختمانی الی روز شنبه تاریخ ۲۷/ سرطان/۱٤٠٥ اخذ و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات، خانه پری و در جلسه روز آفرگشایی ارایه نمایند.
روز آفرگشایی یک شنبه ۲۸/ سرطان/ ۱٤٠٥ ساعت ۱٠:٠٠ بجه قبل از ظهر می باشد.
جلسه آفرگشایی در ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم واقع ناحیه نهم، چهارراهی مکروریان، جوار مسلخ دایر میگردد.

***

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد، قرارداد اعمار منزل دوم هوتل و مهمانخانه صیاد ولایت کاپیسا با کود نمبر MOIC/W-1/RSB/1405 را بطور بیع استصناع به شرکت ساختمانی، آبدات تاریخی، استخراج و مواد ساختمانی عزیز نعیم دارای جواز نمبر (D-2587) را به قیمت مجموعی مبلغ/۸.۳۱۵.۹٠۵- هشت میلیون و سه صدو پانزده هزار نهُ صدو پنج افغانی اعطا نمایند.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۵ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن را به معینیت گرحندوی، مالی و اداری، آمریت تدارکات واقع چهار راهی ملک اصغر روبروی وزارت امور خارجه، وزارت اطلاعات وفرهنگ وفق احکام قانون عقودارائه نمایید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهند شد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: پروژه تدارک یک نوع مواد سوخت (تیل پطرول).
پروژه تدارک یک نوع مواد سوخت (تیل پطرول) ضرورت ریاست محترم تخنیک و ترانسپورت برای ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا دارای تشخیصه نمبر بیع بالتقسیط AOP/G/028/ 1405/NCB ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه اکمال جنس فوق االذکر اشتراک نموده شرطنامه مربوط را در فلش دسک از آدرس ذیل ریاست تدارکات اداره امور ا.ا.ا، گروپ واتس آپ ریاست تدارکات و یا از ویب سایت https:// tenders.ageops.af به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱٠ قبل از ظهر مؤرخ ۱٤٠٥/٤/۲۳ به ریاست تدارکات ریاست عمومی اداره امور واقع محوطه (تعمیر اسبق) وزارت معدن ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نیست، قابل یاد آوریست که هیچ نوع تضمین ضرورت نمیباشد.
همچنان قابل ذکر است که ارزیابی ،مناقصه و مذاکره پروژه فوق الذکر همزمان در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد. والسلام
یادداشت ضروری: اداره میتواند بعد از عقد بیع تمام اجناس را به یکباره گی مطالبه نماید و بایع مکلف به اکمال آن بوده و همچنان قیمت تخمینی پروژه متذکره مبلغ ۱/٦۷٥/٠٠٠ افغانی میباشد.
نوت: تشخیصیه نمبر سیستم تدارکات الکترونیکی: AOPM/1405/NCB/G-1990

***

د قرارداد د داوطلبۍ اعلان

موضوع: د منډوي لوري سویل ته د کوخې کانکریټ اچونه پروژې د قرارداد د داوطلبۍ اعلان
د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ ښاروالۍ له ټولو ور او شرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې دمنډوي لوري سویل ته د کوخې کانکریټ اچونه پروژې کې ګډون وکړي غوښتونکي کولای شي چې د شرطنامې کاپې د (۱٠٠٠) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې د مندرجو شرایطو مطابق په مهر او ترلي ډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري .
هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې ورانډې شي ، د منلو وړ نه دي.
د آفر پرانیستې غونډه به د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسته ، د کابل ولایت مقام په تالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقیعت لري تر سره شي .۳۳۹۱

***

اطلاعیه مفقودی لوحه دواخانه

محترم عبدالرحمن صالح زاده فرزند دوست محمد ولدیت خان محمد دارنده تذکره نمبر (۱۴۱۳۸ - ۱٠٠٠ -۱۳۹۸) مالک امتیاز دواخانه نصرت واقع ولسوالی برکی برک ولایت لوگر عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی لوحه دواخانه خویش خبر داده است
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره لوحه دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۲۴

***

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.
بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور تجارتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱٠ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.
موضوع عبارت است از :
موازی (۳۲۵) سه صدو بیست و پنج متر مربع زمین امارتی واقع ساحه کارته نو ولسوالی بگرامی دارای کوردینات نمبر (Y; ۳۸۱۸۷٤۳ X:٥۲۱۲۷٥) به منظور فعالیت (تجارتی) که سالانه فی جریب به مبلغ ( ) هزار افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.۳۴۱۴

***

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.
بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور زراعت،باغداری و مالداری می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱٠ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.
موضوع عبارت است از :
موازی (٥٠) پنجاه جریب زمین امارتی واقع ساحه کاریز علیا ولسوالی شکر دره دارای کوردینات نمبر (Y; ٦۳۷۳٦٥ X:٦۹٠۳۷٦۲) به منظور فعالیت (زراعت، باغداری و مالداری) که سالانه فی جریب به مبلغ (۱٦۷٠) یک هزار و شش صدو هفتاد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.۳۴۱۵

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حسیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۸۴۷۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالمجید فرزند عبدالحفیظ بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۴۱۱

***

اطلاعیه لیلام

موسسه داکار ۸ عراده موتور سایکل خویش را که استهلاک گردیده بطور لیلام بفروش میرساند. تاریخ برگزاری لیلام به روز دو شنبه ۲۹/سرطان /۱۴٠۵ مطابق ۲٠۲۶/۷/۲٠ و محل برگزاری لیلام دفتر مرکزی داکار واقع سرک ۱۲ قلعه فتح الله وزیر آباد می باشد.
اشتراک علاقمندان آزاد می باشد و پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.
برای معلومات مزید به شماره تیلیفون ٠۷۹۷٠۱۱٠٠۵ در تماس شوید.۳۴٠۷

***

اطلاعیه لیلام

موسسه کمک های خیریه ای آر جاپان (AAR Japan) در نظر دارد ۲۵ قلم جنس داغمه خویش را از طریق پروسه لیلام به فروش برساند.
اشخاص و شرکت های که خواهش خریداری اجناس داغمه را داشته باشند به روز دوشنبه تاریخ ۱۴٠۵/۴/۲۲ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به دفتر ذکر شده واقع کلوله پشته ناحیه چهارم روبروی شفاخانه فرحت، پهلوی کلینیک دندان سهراب صدیقی مراجعه نماید، و قابل ذکر است که ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا آغاز می گردد.۳۴۲۱

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ایروبل نمبر ٠٠۸۳۶۵۱۱ -۳۸۴ به اسم عبدالباری فرزند میهن مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۹۸

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ایروبل نمبر ٠٠۸۳۴٠۶۱ -۳۸۴ به اسم الشفا شریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۹۹

لغمان کې د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت...

ورسوي چې د ناروغانو د ژوند ژغورلو او د روغتیایي خدمتونو د چټک وړاندې کولو په برخه کې مهم رول لري. د سیمې اوسېدونکو د دغه روغتیایي مرکز پر جوړېدو خوښي څرګنده کړه او ویې ویل: له دې وروسته به د درملنې لپاره لرې سیمو ته د تګ اړتیا کمه شي او ناروغان به په خپل نږدې چاپېریال کې پر وخت روغتیایي خدمات ترلاسه کړي.
په همدې مراسمو کې د لغمان والي الحاج قاري بختیار معاذ د خصوصي سکتور دا ډول پانګونې وستایلې او ویې ویل: د دغه کلینیک په فعالېدو سره به د عمومي شهراء او شاوخوا سیمو د روغتیایي خدمتونو یوه مهمه اړتیا پوره شي او ګڼ ناروغان به پر وخت درملنه ترلاسه کړي. نوموړي له نورو پانګوالو هم وغوښتل چې لغمان ته راشي او د روغتیا، ښوونې او نورو عامه خدمتونو په برخه کې پانګونه وکړي، ترڅو خلکو ته لا ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.

د هېواد په اقتصادي او صنعتي ډګر کې...

د خپلو اقتصادي سیاستونو په مرکز کې تولیدي صنعت ته ځانګړې ځای ورکوي؛ ځکه صنعت د توکو د تولید ترڅنګ؛ کار، مهارت، عاید او اقتصادي ثبات هم زېږوي.
یادې پروژې ته داسې مهال د عمل جامه وراغوستل کېږي، چې د هېواد په لر او بر کې نور نوي ستر او مهم اقتصادي خوځښتونه هم لیدل کېږي. د مثال په ډول د برېښنا په برخه کې ورروستي پرمختګونه، د تولید او لېږد شبکو د پراختیا لپاره نوي اقدامات او د صنعت او کانونو په نندارتون کې د لسګونو پانګه ییزو پروژو د تړونونو لاسلیک، دا جوتوي چې د افغانستان اقتصاد د مصرف پر ځای د تولید پر محور د حرکت هڅه کوي. دا ټولې پروژې که څه هم په ظاهره بېلابېلې ښکاري، خو په حقیقت کې د یوې واحدې اقتصادي تګلارې کړۍ او ځانګې دي، چې موخه یې د کورني تولید زیاتول، د پانګونې راجلبول او د ملي اقتصاد پیاوړتیا ده.
افغانستان د طبیعي زېرمو له پلوه د سیمې له شتمنو هېوادونو څخه شمېرل کېږي، خو د دې شتمنۍ حقیقي ارزښت به هغه وخت لا ښه نتیجه ورکړي، چې خام مواد د هېواد په دننه کې پر تولیدي محصولاتو بدل شي. د هر هغه هېواد اقتصاد چې پر خپلو سرچینو متکي وي، د نړیوالو بازارونو د بدلونونو او بهرنیو فشارونو پر وړاندې ډېر مقاومت لري، په نسبت د هغو چې پر نورو متکي وي. له همدې امله، د صنعت پراختیا د نن ورځې د خپلواکۍ یو مهم شرط دی.
بې شکه، لا هم اوږده لاره پاتې ده او د صنعت وده دوامدارو هڅو، پانګونې، مسلکي کدرونو او اغېزمن مدیریت ته اړتیا لري، خو هغه اقتصادي ګامونه چې نن د اسلامي امارت تر قیادت لاندې اخیستل کېږي، دا یې یقیني کړې چې افغانستان کولی شي د خپلو طبیعي او بشري ظرفیتونو پر مټ د ځانبسیاینې منزل ته ورسېږي.
د جبل السراج د سمنټو فابریکې د چارو عملي پیل د صنعت د پیاوړتیا ترڅنګ، د اقتصادي لید استازیتوب هم کوي چې په هغه کې تولید د پرمختګ بنسټ، کار د سوکالۍ وسیله او ځانبسیاینه د ملي عزت نښه ګڼل کېږي. که دا لړۍ په همدې هوډ او نظم سره دوام ومومي، ډېر ژر به د افغانستان اقتصادي نقشه بدله شي او هېواد به د مصرف له پړاوه د تولید او صادراتو پړاو ته داخل شي. همدا هغه بدلون دی چې د پیاوړي اقتصاد، هوسا ولس او باعزته راتلونکي بنسټ ایښودلی شي.
د یو پر ځان بسیا او پر مختللي افغانستان په هیله

پروان کې د ۹۰ میلیونو ډالرو په پانګونې د سمنټو ...

او د راتلونکي سوکالۍ لپاره یو ستر ګام دی. د نوموړي په وینا د سمنټو د تولید په زیاتولو سره له یوې خوا وارداتو ته اړتیا کمېږي، د اسعارو د وتلو مخه نیسي، زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابرېږي او له بلې خوا د ملي عوایدو د زیاتوالي او اقتصادي دوران د چټکتیا سبب ګرځي. ښاغلی برادر وایي: هڅه کوو، چې هېواد له وارداتي اقتصادي حالت څخه تولیدي او صادراتي محور ته انتقال کړو. د ریاست الوزراء د اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په وینا دغه کارخونه عصري او معیاري طرحه شوې ده، چې د سمنټو د اړتیا یوه لویه برخه پوره کوي. دی وایي: په دې پروژه کې له پرمختللو سیستمونو استفاده کېږي، پر کانونو او طبیعي سرچینو متکي ده، داخلي او مسلکي وګړي به یې مخته وړي او سمنټ به یې نړیوال معیارونه ولري. ښاغلي حنفي وایي چې د سرتاسري امنیت په حاکمېدو سره د سمنټو غوښتنه زیاته شوې ده او شته تولید کافي نه دی. د کانونو او پټرولیم د وزیر ملا هدایت الله بدري په وینا، د غوري او جبل السراج له کارخونې پرته د ۷ نورو کارخونو قراردادونه هم لري، چې یو شمېر یې ډېر مخته تللي دي او ژر به بشپړ شي. دی وایي: که دغه ۹ فابریکې په ۲۴ ساعتونو کې ۳ زره ټنه سمنټ هم تولید کړي، نو څه کم ۳۰ زره ټنه ته رسېږي. نوموړي زیاته کړه، چې افغانستان د ګاډرو او ګول سیخ برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی، خو خام مواد یې له بهره راځي، چې هڅې روانې دي، خام مواد یې هم په داخل کې تولید کړای شي. د جبل السراج دویمه فابریکه چې پروان ولایت کې جوړېږي، د همدې ولایت والي شیخ عزیزالرحمن منصور داد ورکړ، چې پروان کابل ته نږدې، پرېمانه طبیعي سرچینې، ځوانه بشري قوه او د لا زیاتو کارخونو د جوړولو ظرفیت لري. نوموړي له مسئولینو وغوښتل چې د دغې کارخونې برېښنا ته زیاته پاملرنه وکړي، څو کارونه یې لا ښه مخته لاړ شي. د امارتي شرکتونو لوی رئیس احمد جان بلال وویل چې د دغو کارخونو په بشپړېدو سره به د هېواد په ابادۍ کې انقلاب راشي. دی وایي، چې امارتي شرکتونه کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته له ټولو خوندي او باوري شریکان دي او ګټه یې مستقیم ملي بودیجې ته ځي.
نوموړي د یادې کارخونې له انجنیرانو او کارکوونکو وغوښتل چې کارونه یې په ټاکلې وخت، پوره مسلکي معیارونو او دقت سره ترسره کړي.　　**تاج محمد بهار**

همکاری‌های اقتصادی...

و ترانزیت منطقه‌یی تبدیل شود. در مقاله همچنان به گسترش همکاری‌های اقتصادی میان افغانستان و قزاقستان اشاره شده و آمده‌است که حجم تجارت دوجانبه در سال ۲٠۲۵ به ۵۴۱.۸ میلیون دالر رسیده و دو کشور بر اساس نقشه راه مشترک، افزایش این رقم به ۳ میلیارد دالر را هدف‌گذاری کرده‌اند. نویسندگان افزوده‌اند که قزاقستان علاوه بر صادرات غله و آرد، همکاری با افغانستان را در بخش‌های معادن، فناوری، خدمات صحی، مدیریت منابع آب، توسعه خطوط آهن و کوریدورهای ترانزیتی نیز گسترش داده‌است. به گفته آنان، این همکاری‌ها می‌تواند جایگاه افغانستان را به‌عنوان پل ارتباطی میان آسیای مرکزی و بازارهای منطقه‌یی و بین‌المللی تقویت کند. در پایان مقاله تأکید شده‌است که ثبات افغانستان از مسیر تجارت، سرمایه‌گذاری، اتصال منطقه‌یی و همکاری‌های اقتصادی پایدار، تحقق می‌یابد و قزاقستان با رویکرد عمل گرایانه در تلاش است «بازی بزرگ» را با «سود بزرگ» در قلب اوراسیا جایگزین سازد.

افتتاح تعمیر جدید اداری...

سلطان غیاث‌الدین غوری و شماری از مسئولان دیگر حضور داشتند. معاون نظامی ریاست تعمیرات وزارت امور داخله، در مراسم افتتاح این تعمیر گفت که هدف از اعمار این ساختمان، ارائه خدمات بهتر، تسهیل امور اداری و دفتری شرطه سرحدی و بهبود خدمات به مردم ولایت غور است. وی افزود که این تعمیر با هزینه ۱۴ میلیون و ۹۱۴ هزار افغانی اعمار شده است و مطابق معیارهای لازم و با امکانات مناسب بخش مهمی از مشکلات اداری و دفتری شرطه سرحدی در ولایت غور را برطرف خواهد کرد.

لغمان کې د استاد ګل پاچا...

غونډه جوړه شوه. د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د معلوماتو له مخې، د استاد الفت د مقبرې د بیارغولو چارې د یاد ریاست په همغږۍ د دبستان فرهنګي مرکز له لوري ترسره شوې دي. په دې غونډه کې د دبستان فرهنګي مرکز مشر ډاکټر لطف الله خیرخوا، د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي عبدالنور رسولي، د پښتو ادب استاد فضل ولي ناکار، د لغمان پوهنتون د علمي چارو مرستیال وقایت الله وقار، استادانو، فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالانو، ژورنالیستانو او ګڼ شمېر نورو ګډون کړی و. د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي عبدالنور رسولي وویل: استاد ګل پاچا الفت د افغانستان د ادب، فرهنګ او فکر یو روښانه شخصیت و او د ده د اثارو، یادګارونو او مقبرې ساتنه د هېواد د فرهنګي میراث د خوندي کولو مهمه برخه ده. نوموړي د دبستان فرهنګي مرکز د هڅو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه: د فرهنګي میراثونو ساتنه او بیارغونه د ملي هویت د پیاوړتیا او د راتلونکو نسلونو د پوهاوي لپاره ځانګړی ارزښت لري. په همدې حال کې د دبستان فرهنګي مرکز مشر ډاکټر لطف الله خیرخوا وویل: د تاریخي او فرهنګي اثارو ساتنه د راتلونکو نسلونو لپاره د ملي هویت د لېږد مهمه وسیله ده او یاد مرکز به د فرهنګي میراثونو د ساتنې، د کتابونو د ژباړې او تألیف، د علمي او فرهنګي غونډو د جوړولو او د ادیبانو د ملاتړ په برخو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي. د غونډې نورو ګډونوالو هم د استاد ګل پاچا الفت د ادبي او فکري میراث د ارزښت یادونه وکړه او د فرهنګي شخصیتونو د اثارو د راټولولو، ساتنې او خپرولو پر اړتیا یې ټینګار وکړ. د یادونې وړ ده، چې استاد ګل پاچا الفت د افغانستان د معاصر پښتو ادب له مخکښو شاعرانو، لیکوالانو او مفکرانو څخه و، چې د هېواد د ادبي او فرهنګي ودې لپاره یې ارزښتناک خدمتونه ترسره کړي دي. د نوموړي مقبره د لغمان ولایت د عزیزخان کڅ په سیمه کې موقعیت لري.

خوست د لومړي ځل لپاره...

ازبیکستانۍ لوبډلې د هدف په ترلاسه کولو ونه توانېده او افغان لوبډلې د ۱۹۹ منډو په ستر توپیر بریا خپله کړه. حسن عیسی‌خېل د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. دغه دوستانه سیالي د افغانستان د کرکټ بورډ او د ازبیکستان د کرکټ فدراسیون ترمنځ د همکارۍ د تفاهم‌لیک له مخې ترسره شوه. د ازبیکستان د لوبډلې مشر د افغانستان له کورېتوب، امنیت او ورزشي اسانتیاوو ستاینه وکړه او ویې ویل چې افغانستان د نړیوالو کرکټ سیالیو د کوربتوب وړتیا لري.

چین له افغانستان سره ...

کې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې د یو شمېر مسئولینو او افغان سوداګرو په حضور کې لاسلیک شوی دی. د هوکړه‌لیک له مخې، چیني تولیدوونکي او سوداګر، په ځانګړي ډول د صنعتي ماشینونو جوړوونکي به د امام ابوحنیفه په پنځم ملي او نړیوال نندارتون کې ګډون وکړي او خپل نوي ماشین‌الات او تجهیزات به د بازار موندنې، د خپلو تولیداتو د معرفي او په افغانستان کې د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه نندارې ته وړاندې کړي.
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې زیاته کړې چې دغه هوکړه‌لیک د افغانستان او چین د خصوصي سکټورونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا او د همکاریو د لا ډېرو فرصتونو د رامنځته کولو په موخه لاسلیک شوی دی.

تأکید وزارت زراعت و کمیته...

و تطبیق برنامه‌های توسعه‌ای گفتگو کردند.
مسئولان کمیته ناروی در این دیدار گفتند که این نهاد تا سال ۲٠۳٠ میلادی، پروژه‌هایی را در بخش منابع طبیعی، امنیت غذایی، بدیل معیشت و تغییرات اقلیمی در افغانستان تطبیق خواهد کرد.

بازدید وزیر ارشاد، حج ...

که هدف از آن، ایجاد اماکن معیاری و محفوظ در تمامی ولایت ها به منظور حفظ حرمت و نگهداری مصاحف فرسوده، پاره‌ها، کتاب‌های دینی و سایر اوراق مقدس می باشد. الحمدلله، تا کنون روند ساخت آن در شماری از ولایت ها تکمیل گردیده و در سایر ولایات به صورت تدریجی احداث خواهد شد. وزیر ارشاد، حج و اوقاف در جریان این بازدیدها تأکید نمود که با تطبیق این پروژه ها، یک میکانیزم منظم و واحد برای جمع آوری، اصلاح و نگهداری اوراق مقدس ایجاد خواهد شد. وی به مسئولان مربوطه هدایت داد تا برای تطبیق بهتر امور پلان شده و ساخت معیاری اماکن یاد شده، اقدامات لازم را انجام دهند. وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا به منظور حفظ حرمت اوراق مقدس، در تمامی ولایات برنامه های آگاهی دهی عامه را راه اندازی نماید، تا مردم قرآنکریم های فرسوده، پاره‌ها، کتاب‌های دینی و سایر اوراق مقدس را جمع آوری نموده و از سوی وزارت به اماکن تعیین شده انتقال شود. همچنان، وزارت برای تطبیق مؤثر این پروژه‌ها، پلان دارد تا تشکیلات، پرسونل، وسایط ترانسپورتی و سایر سهولت های تخنیکی و اداری مورد نیاز را فراهم نماید؛ تا با تکمیل این پروژه ها، یک روندِ منظم و دوامدار برای جمع آوری و نگهداری بهتر اوراق مقدس در سطح کشور ایجاد گردد.

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Satuday 11 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1103

د ریاست الوزراء اداري مرستیال:

د صنعتي سکتور د پیاوړتیا او پراختیا لپاره له کاره لوېدلې فابریکې بېرته فعالوو

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ویلي: دوی به هغه کارخونې بېرته فعالې کړي، چې په تېر دور کې له فعالیت څخه غورځېدلې دي. ښاغلي حنفي چې د پروان جبل السراج ولسوالۍ کې د سمنټو دویمې فابریکې د پرانیستې مراسمو ته خبرې کولې ویلي: اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې په موخه مهم ګامونه اخیستي، د صنعتي سکتور د پیاوړتیا او پراختیا لپاره یې له کاره لوېدلې فابریکې جوړې کړي او د نویو کارخونو په جوړولو یې ګڼو خلکو ته کاري زمینې برابرې کړې دي. ښاغلي حنفي ویلي: د جبل السراج سمنټو دویمه فابریکه په معیاري او عصري ډول ډیزاین شوې او په جوړولو کې به یې له پرمختللي اتوماتیک سیستم څخه کار واخیستل شي. د اداري مرستیال په خبره، «که دا کارخونه په بشپړ ډول بشپړه شي، نو هیله‌من یو چې ټولې کورنۍ اړتیاوې به له همدې ځایه پوره شي او ان ښایي نورو هېوادونو ته هم د سمنټو د صادرولو ظرفیت ولرو.»

د علي خامنه‌يي جسد خاورو ته وسپارل شو

ایسنا اژانس راپور ورکړی، چې د ایران د وژل شوي مذهبي مشر خامنه‌يي جنازه پرون د ایران په مشهد ښار کې د امام رضا په حرم کې خاورو ته وسپارل شوه. د هغه جنازه په تېرو ورځو کې د ایران په تهران، قم او مشهد او همدارنګه د عراق په نجف او کربلا ښارونو کې د میلیونونو کسانو په حضور کې بدرګه شوه. خامنه‌يي د فبرورۍ په ۲۸مه د امریکا او اسرائیلي رژیم ګډو بریدونو کې د خپلې کورنۍ له یو شمېر غړو او لوړپوړو ایراني چارواکو سره یو ځای شهید کړای شوی و.

شهادت شش تن فلسطینی در حمله‌های تازه رژیم اسرائیل بر غزه

مقام‌ها در فلسطین، اعلام کرده اند که در حمله‌های رژیم اسرائیل بر بخش‌هایی از غزه، شش تن شهید شده اند. رسانه‌های بین‌المللی گزارش داده که این فلسطینی‌ها در حمله‌های روز گذشته‌ی ارتش اسرائیل بر بخش‌های گوناگون نوار غزه از جمله اردوگاه «نصیرات» کشته شده اند. با این که اسرائیل و حماس در اکتوبر سال گذشته روی برقراری آتش‌بس به توافق رسیدند؛ اما این کشور پس از این توافق نیز به حمله در برابر فلسطینی‌ها ادامه داده است. بر بنیاد آمار ارائه‌شده از سوی وزارت بهداشت فلسطین، پس از برقراری آتش‌بس میان اسرائیل و حماس، بیش از هزار فلسطینی در حمله‌های این کشور بر غزه شهید و بیش از ۳۴۰۰ تن زخمی شده اند.

مصر او قطر د ایران او امریکا د خبرو د بیا پیلولو غوښتنه کړې

د مصر او قطر د بهرنیو چارو وزیرانو د ایران او امریکا ترمنځ د خبرو اترو د بیا پیلولو غوښتنه کړې ده. د بدر عبدالعاطي او محمد بن عبدالرحمان ال ثاني په ټیلفوني خبرو کې ټینګار شوی، چې د مذاکراتو بیا پیل به د هوکړې عملي کېدو، د تاوتریخوالي کمېدو او د سیمې ثبات ته زمینه برابره کړي. دواړو لورو له ټولو خواوو غوښتي، چې د ستونزو د حل لپاره ډیپلوماسۍ او خبرو اترو ته لومړیتوب ورکړي.

جرمني کې سختې تودوخې له پنځو زرو ډېر کسان مړه کړي

د جرمني رابرټ کوخ انسټیټیوټ ویلي: د روان کال د جون میاشتې تر پایه په دغه هېواد کې د سختې ګرمۍ له امله له پنځو زرو ډېر کسان مړه شوي دي. د یاد انسټیټیوټ د معلوماتو له مخې، یوازې د جون له ۲۲مې تر ۲۸مې پورې شاوخوا ۴۳۱۰ د ګرمۍ اړوند د مړینې پېښې ثبت شوې دي. د راپور له مخې له ۷۵ کلونو پورته عمر لرونکي کسان د قربانیانو له ۸۰ سلنې ډېر جوړوي. یادې شمېرې د احصائیوي اټکلونو پر بنسټ وړاندې شوې دي.

آتش‌سوزی جنگل در اسپانیا؛ ۱۲ تن کشته شدند

مقام‌ها در اسپانیا، اعلام کرده اند که در اثر آتش‌سوزی جنگلی در این کشور ۱۲ تن کشته و شماری زخمی شده اند. رسانه‌های بین‌المللی گزارش داده که آتش‌سوزی در ولایت «آلمریا» در جنوب اسپانیا رخ داده است. بر بنیاد گزارش‌ها، در این آتش‌سوزی شش تن زخمی و ۱۹ تن ناپدید شده اند. علت این آتش‌سوزی تاهنوز روشن نشده و تحقیق در باره آن آغاز شده است. وزارت بهداشت اسپانیا، این آتش‌سوزی را مرگبارترین رویداد در تاریخ این کشور دانسته است. پدرو سانچز، نخست‌وزیر اسپانیا، چند ماه پیش اعلام کرده بود که این کشور قصد دارد بزرگترین عملیات مقابله با آتش‌سوزی‌های جنگلی تابستانی در تاریخش را اجراء کند.

دیدار وزیر زراعت امارت اسلامی با وزیر صنایع پروسس مواد غذایی هند

مولوی عطاءالله‌عمری، وزیر زراعت، آبیاری و مالداری امارت اسلامی افغانستان، در ادامه سفر رسمی خود به جمهوری هند، با شیری چیراگ پاسوان، وزیر صنایع پروسس مواد غذایی آن کشور، دیدار و درباره گسترش همکاری‌های دوجانبه در بخش پروسس محصولات زراعتی گفتگو کرد. در این دیدار، دو طرف راه‌های توسعه همکاری در زمینه ایجاد ارزش افزوده برای محصولات زراعتی، توسعه زیربناهای پروسس مواد غذایی، انتقال تکنالوژی، ارتقای ظرفیت و گسترش تجارت دوجانبه را مورد بحث و بررسی قرار دادند. همچنین، بر اهمیت تقویت همکاری‌های مشترک در راستای تأمین امنیت غذایی، بهبود معیشت شهروندان و توسعه همکاری‌های اقتصادی سودمند میان افغانستان و هند تأکید شد.

بازدید وزیر ارشاد، حج و اوقاف از پروژه‌های حفظ و نگهداری اوراق مقدس در سه ولایت کشور

شیخ الحدیث سرمحقق دکتور نورمحمد ثاقب، وزیر ارشاد، حج و اوقاف، در رأس یک هیئت، از اماکن تعیین شده برای نگهداری قرآنکریم های فرسوده، پاره‌ها، کتاب‌های دینی و سایر اوراق مقدس در ولایت‌های میدان وردک، غزنی و زابل بازدید کرد. در جریان این بازدیدها، با حضور رؤسای ارشاد، حج و اوقاف ولایت‌های یاد شده و نمایندگان ریاست های زراعت، شهرسازی و مسکن، وضعیت اماکن تعیین شده مورد ارزیابی قرار گرفت و به منظور تطبیق این پروژه‌ها و اتخاذ اجراءات ضروری، رهنمودهای لازم ارائه گردید. این پروژه ها بر اساس هدایت زعیم امارت اسلامی افغانستان عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله» پلان و سرپرستی وزارت ارشاد، حج و اوقاف و با همکاری وزارت دفاع، تطبیق می گردد. ص۳

لغمان کې د استاد ګل پاچا الفت په یاد علمي غونډه جوړه شوه



د پښتو معاصر ادب د مخکښ شاعر، لیکوال او مفکر استاد ګل پاچا الفت د مقبرې د بیارغولو چارې بشپړې او د ده د علمي، ادبي او فرهنګي خدمتونو د درناوي په موخه یوه علمي او فرهنګي... ۳مخ

خوست د لومړي ځل لپاره د ازبیکستانۍ کرکټ ملي لوبډلې کوربه و

د ازبیکستان د کرکټ ملي لوبډله د لومړۍ بهرنۍ لوبډلې په توګه د خوست په رحمت ولي مسرور ملي کرکټ لوبغالي کې د افغانستان «ایلېون» پر وړاندې دوستانه شل اووریزه سیالي ترسره کړه. افغان «ایلېون» د حسن عیسی‌خېل د چټکې سلیزې (۱۲۰ منډې) پر مټ په ۲۰ اوورونو کې ۳۲۳ منډې جوړې کړې او ازبیکستان ته یې د ۳۲۴ منډو هدف وټاکه. ۳مخ

د څرخي پله زندانیانو ته حرفوي زده کړې ورکول کېږي

د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویلي چې د لومړي ځل لپاره یې د څرخي پله په زندان کې ۹۰ تنو زندانیانو ته د شپږ میاشتنیو تخنیکي او مسلکي زده‌کړو زمینه برابره کړې ده.

د یاد وزارت په وینا، ګډونوال به د وداني برېښنا، کمپیوټر او خیاطۍ په برخو کې نظري او عملي زده‌کړې ترلاسه کړي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت چارواکي وایي: د دې پروګرام... ۲مخ

بدخشان کې د «لاجورد» په نامه د کورنیو تولیداتو نندارتون پرانیستل شو

د بدخشان د صنعت او سوداګرۍ ریاست په دغه ولایت کې د «لاجورد» په نامه د کورنیو تولیداتو درې ورځنی نندارتون پرانیست. د مسئولینو په وینا، په دې نندارتون کې د ۶۰ غرفو له لارې د ښځو لاسي صنایع، کرنیز محصولات او نور کورني تولیدات ننداریو ته وړاندې شوي دي. ګډونوالو دغه ډول نندارتونونه د کورنیو تولیداتو، په ځانګړي ډول د ښځو د لاسي صنایعو، د ودې او بازارموندنې لپاره مهم بللي. متشبثو ښځو له حکومت څخه د لا زیات ملاتړ او د ورته نندارتونونو د جوړولو غوښتنه کړې. د نندارتون لیدونکي هم له هېوادوالو غواړي چې د بهرنیو تولیداتو پر ځای له کورنیو تولیداتو ګټه پورته کړي.

تأکید وزارت زراعت و کمیته ناروی بر حمایت از دهقانان و توسعه بخش زراعت

مولوی صدراعظم عثمانی، معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری با تاریا مگنوسن واتردال، رئیس کمیته ناروی برای افغانستان دیدار کرده است.

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌گوید که دو طرف روی گسترش همکاری‌ها در بخش زراعت، حمایت از دهقانان، مالداران و باغداران، مقابله با پیامدهای تغییرات اقلیمی... ص۲